# د ننګرهار هېر شوي دودونه

**لیکوالان: پوهنمل تاج محمد رحیمي**
**پوهنیار صفي الله صمیم**

**Abstract**
In this article and research, in addition to the traditions of Nangarhar, the traditions of Pashtuns are also briefly discussed. In addition, the traditions of Nangarhar that have been forgotten or are in the process of being forgotten have been studied. There are many traditions that have given way to modern tools with modern technology and have now fallen into the pit of oblivion. Also, some traditions that are bad and brought misfortune to the society in the past are being forgotten and lost. In Afghanistan, all the Pashtuns share the same traditions and some traditions and customs have died in every province, but Nangarhar is one of the developed provinces. Articles discussed in the main text have fallen into the pit of death and disappeared.

**لنډیز**
په دې لیکنه او څېړنه کې برسېره پر دې د ننګرهار دودونه معرفي کېږي د پښتنو په دودونو لنډ بحث هم شوی دی.د دې ترڅنګ د ننګرهار هغه دودونه چې اوس وخت هېر شوي او یا د هېرېدو په حال کې دي څېړل شوي دي.ننګرهار کې ډېر داسې دودونه شته چې د معاصرې ټکنالوژۍ سره یې خپل ځای عصري وسایلو ته پرېښی او اوس د هېرېدو کندې ته غورځېدلي دي.همدارنګه ځینې داسې دودونه چې ناوړه دي او ټولنه یې له پخوا له بدبختیو سره مخ کړې وه په هېرېدو او ورکېدو سره یې ټولنه د سمون خوا ته روانه شوه.په افغانستان کې ټول پښتانه سره شریک او یو ډول دودونه لري او هر ولایت کې ځینې دودونه او رواجونه د مرګ خولې ته ورغلي دي،خو دا چې ننګرهار یو له پرمختللو ولایاتو څخه دی دلته د ډېرو دودنو چې د مقالې په اصلي متن کې پرې بحث شوی د مرګ کندې ته غورځېدلي او له منځه تللي دي.

**کاریدونکي ویي:** [illegible]

Ketabton.com

**سریزه**
د هرې ټولنې ذهني او مادي پرمختګ تر ډېره یو په بل پورې تړلي دي.د یوې ټولنې ذهني وده او پرمختیا له دې څخه معلومېږي،چې د تاریخ په اوږدو کې یې د بیلابیلو علومو او فنونو فرهنګ او ثقافت په برخه کې څومره بریالیتوبونه تر لاسه کړي دي.هغه هېوادونه او ټولنې چې په فکري لحاظ نسبتاََ نورو وروسته پاتې او غواړي،چې په عقیدوي،فکري او علمي لحاظ د هغو هېوادونو او ټولنو پیروي وکړي،چې په دغو بر خوکې پرمختللي دي،نو ورته لازمه ده، لومړی د هغوی کلتور او فرهنګ مطالعه کړي او د هغوی فولکلور وګوري چې هغوی په تېر کې کوم دودونه او رواجونه لرل.د یوې ټولنې دودونه او کلتور د هغوی د ادب دپرمختګ وسیله ده.که چېرته د یوې ټولنې وګړي د خپل تېر کتلور او دودونو ناخبره پاتې شي،نو دا په دې معنی ده چې دې ټولنې خپل نیمايي ژوند له لاسه ورکړی دی.د همدې تعامل له مخې ما هم مهمه وګڼله چې په دې برخه کې کار وکړم او خلکو ته د هغو دودونو په اړه معلومات وړاندې کړم چې یا هېر شوي او یا د هېرېدو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکېدو په حال کې دي.زما دا څېړنه هم همدې موضوع ته چې عنوان يې دی( د ننګرهار ورک شوي دودونه) ځانګړې شوې ده.

## د څېړنې د مسألې طرحه

ادبيات هغه علم دی،چې د هرې ټولنې د ژوند يوه برخه ګرځېدلې.که ادبيات نه وای نن به د نړۍ د شاهکارونو، نوميالیو شاعرانو او ليکوالو نومونه، د ټولنې دودونه او رواجونه د ژوند په تاريخ کې نه وای ليکل شوي.دا،چې ادب د ټولنې جدي اړتيا ده،نو اړينه ده،چې په ادب او ادبياتو پوه شو. څو وکولی شو د خپلې ټولنې په ټولو هغو دودونو او رسمونو پوهه شو،چې له ټولنې څخه د ورکېدو او هېرېدو په حال کې دي. د همدې اړتيا له مخې ما هم د خپلې مقالې په دغه عنوان کې د ننګرهار هېرشوي دودونو يادونه په شوې چې يار هېر شوي او يا د ورکېدو او هېرېدو په درشل کې دي.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخې دا دي چې يو څو وکولی شو د ننګرهار ټول ورک شوي يا هېر شوي دودونه يوځل بيا راژوندي کړو او خلکو ته يې وړاندې کړو او بله موخه يې دا ده چې د ولسي ادب دا تشه هم ډکه شي چې په راتلونکې کې ورسره لوستونکي اشنا شي او د خپل کلتور او فرهنګ څخه ناخبره پاتې نه شي.

- د دودونو پېژندل.
- د هېرشوو دودونو ژوندي ساتل.
- د دودونو ګټې او ځيانونه پېژندل.

## د څېړنې اهميت

زما د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی،چې د ننګرهار هغه دودونه، چې اوس د ورکېدو يا هېردو په حال کې دي،خلک ترې خبر کړم او خلکو ته ور په ګوته کړم،چې په ننګرهار کې هغه کوم دودونه دي، چې اوس د نوي عصر او ټکنالوژۍ د راتګ سره مخ په هېرېدو او ورکېدو دي او اوس خبره دا ده چې څنګه کولی شو دا دودونه ژوندي وساتو چې د ورکېدو او هېرېدو په لومه کې دي.

## د څېړنې مخينه

ننګرهار يو له هغو ولاياتو څخه دی،چې د افغانستان د نورو سيمو په څېر مختلف دودونه او رواجونه لري.د دودونو په اړه په مختلفو کتابونو کې يادونه شوې ده.په دغه مقاله کې د ننګرهار د دودونو په اړه مفصل بحث شوی او هره برخه يې جلا جلا سپړل شوې ده. لاندې کتابونو کې د دودونو په اهميت او ارزښت بحثونه شوي چې مونږ يې د مخينې په توګه راوړو. د افغانستان اتنوګرافيک اطلس چې د علومو اکاډمی لخوا چاپ شوی د دودونو د پېژندنه په اړه لنډ معلومات وړاندې شوي دي.په پښتني دودونو کې هم د رواجونو او دودونو په اړه لنډ تعريفونه راغلي.د محمد صديق روهي فولکلور پېژندنه او د صديق الله رښتين په پښتني لارښود کې هم د پښتنو په راوجونو او دودونو بحث شوی،خو دا چې زما موضوع د ننګرهار ورک دودونه دي په ځانګړي ډول په دې اړه په منظم ډول کومه ليکنه نه ده ترسره شوې.

## د څېړنې کړنلاره

هره څېړنه ځانله جلا او مختلف ميتودونه او روشونه لري دا،چې د ادبي علومو کړنلاره او ميتود په کيفي او توصيفي شکل سره ښودل کېږي،ځکه چې د کيفي او توصيفي ميتود له لارې اړين مواد د کتابتون او ساحې څخه ترلاسه کېږي،نوله همدې امله د دې ليکنې ښه کتابتوني ده. د تشريحي، توضيحي او تحليلي ميتود څخه په کې کار اخيستل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې دغو پوښتنو ته ځواب ویل شوی دی.

- په ننګرهار کې هغه کوم دودونه دي چې د هېرېدو په حال کې دي؟
- د دودونو په ورکېدو په ټولنه کې کومې تشې رامنځ ته کېږي؟

### د څېړنې میتود

د دې څېړنې بنه کتابتوني او میتود یې تشریحي او ساحوي دی.

## د څېړنې فرضیه

که له پښتنې ټولنې څخه دودونه ورک شي،نو په راتلوونکي کې به ټولنه له خپلو کړنو،ناخوالو،لاس ته راوړنو،دودونو او رواجونو ناخبره پاتې شي.

### د پښتني دود پېژندنه

( دود) د کلتور یو توک دی او په اصطلاح کې د چلن بېلګو (Patterns Behavior) هغې مجموعې ته ویل کېږي، چې په عنعنوي بڼه له یوه نسل څخه بل نسل ته انتقالېږي اوله فردي نامنظم چلن ( سلوک) سره توپیر لري. که د ځینو ټولنپوهانو په اصطلاح فولکلور د خلکو له کلتور سره مترادف او یو شانته وګڼو، نو (دود) د خلکو د کلتور پر یوه توک اطلاق کېږي او ټول کلتور (هڅوب) ته احتوا کوي. دود د چلن هغه ثابت قواعد او ضوابط دي، چې د زماني په اږدو کې تشکیل شوي او په یوه یا بله ساحه کې د خلکو د ژوند لارې - چارې تنظیموي لکه د میلمه پالنې، واده، اخترونو او داسې نور دودونه."( روهي، ۱۳۹۴: ۷۸ – ۷۹ ).

په پښتو – پښتو سیند کې د دود په اړه داسې راغلي : ( دود چې جمع یې دودونه دي د رواج،رسم، هڅوب،کلتور او ثقافت په معناو سره راغلې ده.). ( اریانا پښتو-پښتو سیند،۱۳۸۹ : ۵۳۸ ).

### په ټولنه کې د دودونو اهمیت

دا چې دودونه په یوه ټولنه کې څه اهمیت لري او څومره د ارزښت وړ دي . په دې اړه په تېر کې هم بحث شوی دی،خو په لنډه توګه ویلی شو چې دودونه د ډېر ارزښت او اهمیت وړ دی.د دود د اهمیت په اړه ډاکټر ګوستاولولون وايي چې : ( (( د دنیا ملتونه هغه وخت مري او له مینځه ځي چې ضعف اوسستي د هغو په اخلاقو کې درز واچوي او فلسفي افکار د ملي اخلاقو بنیاد او بنسټ سست کړي ځکه اخلاق د ملت روح دی.

مرحوم استاد ګل پاچا الفت د ( پښتني دودونه) کتاب په سریزه کې لیکلي :" کوم تغیر او تحول چې په عُرف او عادات کې پېښېږي ، هغه ډېر ځنډنی دی او زموږ د نن ورځې دودونه او رواجونه د ډېرې زړې زماني او داسلافو یادګار دی، چې نسل په نسل موږ ته رارسېدلي دي. د یوه ملت ذهني او روحي معرفت له دود او دستور سره ډېره ټینګه رابطه لري او همدغه شی یو ملت له بل څخه په معنوي او کلتوري لحاظ بېلوي. د انسان ناسته ولاړه، تګ راتګ ، خندا او ژړا، غم او ښادي ، دوستي او دُښمني په هرځای کې یو څه مخصوص اداب او رسوم لري چې څوک ترېنه مخالفت نه شي کولی. ښه او بد سړی په همدغه هنداره کې لېدل کېږي.څوک چې د یوه ملت ذهني حال مطالعه کوي او غواړي چې معنوي او حقیقي څېره یې ځانته معلوم کړي، نو د هغه ملت په دود او دستور ، رسم او رواج کې دې ژوره مطالعه شروع کړي، ځکه چې دغه شي ته په ډېر اهمیت ګوري. په یوه ملت کې هماغه کسان په نور باندې ډېر تاثېر او نفوذ پیدا کولی شي ، چې د قوم عادات ، اخلاق ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دودونه او رواجونه ورته ښه معلوم وي او له دغې لارې نه د خلکو له روحیاتو او نفسیاتو سره ښه اشناشوي دي.( روح الامین،۱۳۹۱ : ي).

**د ننګرهار هېرشوي دودونه او ولسي ادب کې یې لټه**

تر دې عنوان لاندې مو هڅه کړې، هغه دودونه چې موږ په دې لیکنه کې د هیرو شویو دودونو په توګه راټول کړي، په ولسي ادب کې وپلټو. نغاره، چیغه، پاوکی ، نذر، زریات ته تلل او داسې نور دود ونه دي چې پخوا د ننګرهار په ډېرو سیمو کې موجود و او اوس هیر شوي او یا د ورکېدو په حال کې دي تر بحث لاندې نیول شوي.

## هېر شوي دودونه

د پښتونخوا په خوا کې پروت ننګرهار د ګڼو دودونو مرکزدی. دا سیمه له لیسزو راهیسې د علم او فرهنګ ټاټوبی بلل کیږي، یو لامل یې هم دا دی چې دا خلک خواږه دودونه اوپسته ژبه لري. دا خبره کره ده چې د هرملت پیژندنه د دودونو او رواجونو له مطالعې پرته ناشوني ده، ځکه چې دودونـه د ملتونـو هنداري دي. کـه د بلـې سیمې کـوم کـس تـه د ننګرهـار نـوم واخلـئ او هغـه کـس ننګرهارلیدلی وي، نو دستي درته د ننګرهار د خلکو د دودونو یادونه کوي او درته وایي چې، د ننګرهار د خلکو دغه - دغه دود مې ډېر خوښ دی او له همدې امله مې ټول ننګرهار خوښیږي. له دې ښکارې چې د هرې سیمې د اوسېدنکو ارزښت د هغوی دودونه ټاکي.هغه دودونه چې یا هېر شوي او یا د ورکېدو په حال کې دي په لاندې ډول راوړو او په هر دود بحث او خبرې کوو.

**نغاره وهل**

نغاره : یوګړی ښځینه نوم دی چې د ( ډنډوره ، ډمامه، خبرولو، او نوبت) په معنی استعمال شوی دی.( ټول افغان ویبپاڼه ، ۱۲).

د نغارې اواز دې راغی

په زړه سوری شي، یاره ودې کړه کوژدنه

نغاره په پښتو فولکلور کې ډیره مشهوره ده. پخوا په پښتون قام کې نغاره د بېلابېلو کارونو لپاره کارول کېده، خو اوس یوازې د خوښیو په مراسیمو کې کارول کیږي. اوسني ځوانان چې د نغارې نوم واوري، نو دستي یې ذهن ته د نغارو غږ راځي او فکر کوي ،چې نغارې یوازې د خوښیو په مراسیمو کې د ډنګ - ډول لپاره ده. خو داسې نه ده. د ننګرهار په ځینو سیمو کې د نغارې وهل یو (دود) و ،چې د بېلابېلو کارونو لپاره وهل کېده. نغاره د موسیقۍ یوه متوسطه اله ده، چې د یوه ټاکلي کار لپاره د یوې ټاکلې سیمې د خلکود راټولولو لپاره د خلیفه ګانو( نایانو) له خوا وهل کیږي. د نغارې غږ منظم خو دومره تیز دی، چې د وهلو له ځای څخه شاوخوا څوکلیو متره لرې هم اورېدل کیږي. موږ په دې لیکنه کې هم د نغارې اله در پیژنو او هم د نغارې وهلو دود چې اصلي موخه مو هم د نغارې وهلو د دود پیژندنه، د هغې ګټې، د وهلو وختونه او نورو خواوو پېژندنه ده.

**د نغارې جوړښت**

نغاره د هګۍ په څېر شکل لري، خو له هګۍ غټه ده. نغاره ( ۴۰ - ۵۰ سانتي )اوږد والی او (۳۰ – ۴۰ سانتی) پلنوالی لري. دا یې معیار دی خو له دې غټه او له دې لږه وړه هم جوړېدلی شي ، مګر منل شوی یې همدا ده. د حیواناتو هغه پوستکي، چې د موسیقۍ په نورو الو کې کارول کیږي، همغه پوستکی د نغارې د سر لپاره هم کارکول کیږي. پخوا به کولالانو د ختینو کټوو په څېر د نغارې لپاره کټووې جوړولې، چې پاس سر او لاندې سر به یې ګرد وو، لکه د کنډول، په څېر چې دا هم په دوه ډوله وي. د یو ډول کنډولونه یې لږ لوی او بل ډول یې لږ واړه وه. (( پخوا به په ننګرهار کې داسې یو دود هم و چې، د کوم چا په کور کې به مړی او یا واده و، نو یو غټ غوایي به یې حلالولو. کله چې به یې غوایي حلال کړو، سر به یې کسبګر (خلیفه) ته ورکړ، د سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه به يې پوستکی ويست، له ځان سره به يې يو بل کس پيدا کړ، پوستکی به يې پر کنډول، ښه سم خور کړ او بيا به يې پر کنډول ښه کش راکش کړ، يوه وړه (منجيله) چې ( د خمزورۍ له بوټې او وړوڅخه جوړيږي) د همدې کنډول پرسر کېښود، پوستکی به يې پرې بيا کش کړ، ښه به يې ټېنګ کړ، څو ورځې به يې لمرته کېښوده، تر وچېدو وروسته به يې چې را واخسپته، نونغاره به جوړه وه او تيز ټنګار به يې کاوه.د نغارې يو سر دهګې په څير غټ او بل يې لږ وړکی وي ، د دواړو سرونو ترمنځ به يې د حيواناتو د پروسيس شويو کولمو پنځه مزي، له وړو لښتو سره يوځای غزېدلي وي. څومره چې دا مزي ټينګ وي ، همومره به نغاره تيزه اوغوسه ناکه غږيږي. د نغارې د غږولو لپاره دوه وچې لښتې چې شاوخوا ديريش سانتي اوږدوالی يې لري له کلکو لرګيو جوړيږي. د همدې لرګيو څخه به ځوان نايي يو لرګی په يوه لاس کې او بل لرګی په بل لاس کې کلک نيسي او نغاره به پرې وهي.

نغاره به معمولا د څلور لويو کارونو لپاره چې هر يو يې پخپل ډول کې يو دود و په بېلابيلو بڼو وهل کېده. د کليو سړکونه لکه د اوس په څېر ډېر خامه او خراب وه، کله به چې ډېر باران وشو او يا به د ويالو اوبو خامه سړکونه خراب کړل، د سيمې مشر به نايي ( کسبګر- خليفه) ته د ماښام له لمونځ څخه وروسته په جومات کې وويل، چې ماخوستن د سړک د جوړلو لپاره نغاره ووهي نايي به هم د نغارې غږولو لپاره متې بډ وهلې.

دويم ډول نغاره د اوبو د بند لپاره وهل کېده. د دې نغارې د وهلو ډول او غږ هم مالوم و. کله چې به په سيند کې د ځمکو د اوبو بند ويجاړ شو او دکليو پر ابادو ځمکو به اوبه وچې شوې، خلکو به د سيمې قومي مشر ته شکايت وکړ، هغه به د ماښام له لمونځ وروسته په جومات کې نايي ته دنده ورکړه، چې د اوبو د بند د جوړلو لپاره پر ټاکلي وخت د بند نغاره ووهي.

دريم ډول د اخترونو د لمونځونو لپاره وه. د سيمې قومي مشر به د خپلو اړيکو له مخې له اختر ځان خبرولو، کله به چې د سيمې مشر ښه باوري شو چې سبا ته اختر دی، نو د ماخوستن له لمونځ وروسته به يې د سيمې نايي ته وويل چې، د اختر د لمونځ او خبرېدو نغاره ووهي. نايي به يو ځل دشپې او بيا د ورځې نغاره ووهله.څلورم ډول يې د جګړې لپاره نغاره وهل کېده . د دې نغارې وهلو ځانګړی وخت نه و مالوم خو د وهلو طريقه او غږ يې مالوم و ، کله چې به هم په يو ناڅاپي ډول نغاره ووهل شوه او غږ به يې د جګړې په څېر و، د کليو اوسېدونکي پوهېدل چې کومه بده پېښه شوې او مشران غواړي چې له مقابل لوري غچ واخلي، نو نغاره به وغږول شوه او د کلي ټول خلک به سره راټول شول.

## د نغارې د دود ګټې

د نغارې وهلو دود ډيرپخوانی دی او د ننګرهار په ډېرو کليو کې د نغارې دود، د يوه قانوني مادې حيثيت درلوده.د خلکو ترمنځ راشه درشه، مينه او صداقت ډېرېدلو. يو د بل په درد کې به يې خان له خلکو سره شريک ګڼلو، د ټولنيز پرمختګ فکر غښتلی و، اجتماعي کارونه شخصي کارونه ګڼل کېدل، خلک پر خپلو متو باوري وه، بل ته د لاس نيولو د فرهنګ مخه نيول شوې وه او تر ټولو ستره ګټه يې دا وه چې پر مټ يې د خلکو يوالی ،مشري کشري او مينه ساتل شوې وه، يعنې هرڅه منظم ترسره کېدل. پرمختللي، تکنالوژي، جګړه ، کدوالي، خپل منځي اختلافات،بې باوري، ورور وژنه، مشرانو ته سپکاوی، په کليو کې د مشرانو وژل کېدو او نورو مشکلاتو د نغاره وهلو دود ختم کړی چې ورسره قومي اشرونه، مينه محبت، راشه درشه، پر يوه ځای د کليوالو ټولېدنه، د ويالو او سړکونو جوړونه له منځه تللي. په يادو سيمو کې د خپلوانو او دوستانو ترمنځ کوچنی اشر اوس هم شته خو لوی اشرونه په نيشت حساب دی او نايانو له ويرې پخوانی نغارې هم سوځولي دي.نغاره د ولس هغه دود وو چې په ولسي ادب کې يې هم يادونه شوې لکه په لاندې بېلګو کې يې چې ګورو.

بيا به ګورې نغارې به راډنګيږي
بيا به ګورې ولسونه به خوځيږي
تندرونه به په شنه اسمان غورځيږي
بيا به ګورې له قبرونو به لټيږي
( تورمان،۱۳۸۴ : ۱۵ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته بیتونو کې چې د نغارې کومه یادونه شوې ، داډول نغاره د جګړې لپاره وهل کېږي . د دې نغارې د وهلو یا ډنګولو ځانګړی طریقه او غږ یې هم مالوم وو . کله چې په کلیو کې په یوناڅاپي ډول نغاره وډنګول شي او غږ یې د جګړې وي، کلیوال پوهېږي چې ولس کې کومه بده پېښه شوې او مشران غواړي چې له مقابل لوري غچ واخلي. په ټولو کلیو کې نغاره اورېدونکي کسان د ټولېدو ځای ته ځي ، هلته ورته د سیمې مشران لنډې خبرې کوي، ټولو شویو خلکو ته هدف ورښودل کېږي چې برید وکړي.همدارنګه په پښتو لنډیو کې هم د نغارې یادونه شوې او د هغې وخت یو په زړه پورې انځور په کې ویستل شوی دی لکه په لاندې لنډیو کې چې وایي:

د نغارې غږ مې ترغوږ شو

جانانه پاځه د پښتون ننګ ته ورځونه

+++

د نغارې ډنګ که دې واورېد

پوهه شه چې ستا یارې به کړي وي کوژدنه

**اشر**

په قبیله کې عموآ د کارونو بیّ ګډه تر سره کولو ته اشر وایي. په اشر کې د کلي ټول ځوانان برخه اخلي.په ځینو ځایونو کې چې څوک اشر ته ولاړ نه شي،نو د یو کار یا بار حیوان ورلیږي.په اشر کې برخه نه اخیستل ځانته ناغه لري او نه ګډون کوونکی د ملامتی وړ دی.عمومي کارونه لکه د ویالي جوړول،د ویالي پاکول،د جومات کار او نور ټول ګټي کارونه په اشر سره ترسره کېږي.( هوتک، ۱۳۸۹ : ۲۵۶).

په پښتنو کې د اشر رواج هم له پخوا نه موجود دی.په ګرانو کارونو کې لکه ختې کول،کرکیله،لو او غوبل،ویالي ویستل،کاریزونه پاکول او داسې نورو کې د کلي خلک سره یوځای کېږي او د اشر غوښتونکي کار په ګډه سره خلاصوي،چې لویه ګټه یې دا ده چې اشر ګذارو ته به ښه ډوډئ ورکوي او په ګېډه به یې ښه ماړه ساتي.اشر د اجتماعي ژوند او ګډ کار یو داسې ښه رواج دی چې هر څوک ورنه پوره ګټه اخیستلای شي.(رښتین، ۱۳۸۹ : ۲۷ ).

په ننګرهار کې د اشر دود نسبت پخوا ته اوس ډېر کم شوی او د ورکېدو او هېرېدو په حال کې دی.دا چې دا دود ولې د ورکېدو په حال کې دی ډېر لاملونه لري چې لوی او عمده لامل یې د عصري وسایلو رامنځ ته کېدل او په خلکو کې د ځان خوښی احساس پیدا کېدل دي.د نوي ټکنالوژی سره ډېر زاړه رواجونه او دودونه هېر شو او په ټولنه کې د ځان ځانئ احساس دومره قوي شو چې د اشر په څېر دودونه چې ټولنې ته یې ګټه زیاته وه او د یوالي او اتفاق یو ستر لامل هم وو د له منځّ تلو په حال کې دی.

**چیغه**

چیغه کول په پښتني سیمو کې یو عام دود دی . چیغه د باندنیي خطر د مخنیوي ، غچ اخستلو او ژغورلو لپاره کیږي. د چیغې د دود په اړه د پوهاند صیب رښتین ، په ( پښتني لارښود) نومي کتاب کې داسې لیکل شوي. " کله چې په کوم کلي یا کور ، دُښمن حمله وکړي او یا پرې داړه پرېوځي، نو نغاره او ډول وهل کېږي او چیغه پورته کیږي، نو ټول خلک د وسلو سره په چیغه راوځي، د یرغل او داړې مخه نیسي او کلي کور له باندیني خطر څخه ژغوري.( رښتین،۱۳۸۹ : ۲۶ ).

په کلیو او بانډو کې د چیغې نغاره مالومه وه. کله چې به د کلي (نایي) د چیغې نغاره ووهله، نو ټولو کلیوالو به په منډه – منډه ځانونه د نغارې د ټولېدو ځای ته رسول او هلته چې به ورته د کلي د مشرانو له خوا هر ډول لارښونه وشوه، دوی به اجرآ کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چيغې د دود ښېګڼې**

- د خلکو يوالی يې ساتلی وو.
- خلک يې د کورني او بهرني دښمن پر وړاندې يوموټې ساتلي و.
- د همدې دود پر مټ خلکو له لويو خطرونو څخه د خپل سر اومال ساتنه کوله.
- د همدې دود له برکته د يوه دښمن ته بل کليوال د خپل دښمن په سترګه کتل او په ګډه
- چيغې په زلميوکې د خپلې خاورې،سر، مال ، غزت او ولس ساتنې فکر روزلو.

**د چيغې د دود بد ګڼې**

- د چيغې په دود کې هره کړنه په احساساتي ډول ترسره کېږي
- ډېرکله د چيغې د دود له مله په ډېره وړه خبره د انسانانو ژوند خاورې شوی دی.
- کله کله د کلي مشرانو خپله شخصي دښمني د چغې پرمټ ترسره کړې ده.
- د چيغې په دود کې کله - کله بې ګناه کسان هم ډېر سخت زيامن شوي دي.

## تړه او تړون

که چيري په يوه قوم کې يوه غټه خبره پېښه شي يا کوم خارجي دښمن په يوځای چپاؤ راوړي، نو دلته ټول ولس راټولېږي ، په خپل منځ کې يو تړون او پرېکړه کوي او په ګډه سره د هغه چپاؤ مخه نيسي. د پښتنو په تړون کې يا په قرآن قسم خوړل کېږي او يا په درې کانو د ښځو طالاقولو لوړه کېږي. په قومي او ملي چارو کې پښتانه همېشه سره يوکېږي او کورني اختلافونه شاته غورځوي. دغه شان د خارجي دُښمن په مقابل کې خپلې تربګنی پرېږدي او ټول سره يوموټي کېږي او يو لاس کېږي او په يوه اتفاق ، دښمن ته په شريکه ماتې ورکوي.د وطن ساتنه او د خاورې ژغورنه د پښتنو يو تاريخي صفت دی،دوی د هر يرغلګر مقابلې ته په شريکه ودرېږي او مقابله يې کوي. ( رښتين،۱۳۸۹ : ۲۶).

**پاوکی**

پاوکی د پښتون قام په منځ کې يو دود دی، چې په پښتو تشريحي قاموس کې په دې ډول تشريح شوی. پاوکی د خيرات يا نذر د پاره د سرې په سر پاؤ غله راټولونو ته ويل کېږي.(ټول افغان ويپآنه، ۱۲).
د ننګرهار په ډېرو هغو سيمو کې د پاوکي دود تر بل هرځايه ډېر عام و چې د کرنې لپاره پکې ځمکې ډېرې وي او ورښتونه په کې ډېر کېږي، د ننګرهار په ډېرو سيمو کې پاوکی ډېر عام و.دپاوکي دود په دې ډول وو چې د کلي خليفه ته به هدايت ورکول کېده ، چې د پاوکي لپاره نغاره وډنګوي. د پاوکي د نغارې د ډنګولو طريقه او غږ خلکو ته له وړندې مالوم و، د کلي خليفه به نغاره د کلي لوړې غونډۍ ته وخېژوله او هلته به يې ښه ډېره و ټنګوله. د قومي مشرانو له خوا ټاکل شوي، ځوانان به چې په کلي کې دهرچا د کور مخې ته ودرېدل، د کور خاوند به ورته د کور د هر غړي پر سر يو پاؤ وريجې، وړه، غوړي او لرګي ورکول ، هغوی چې مالداره به وه، د خدای ( ج) د رضاَ لپاره به يې نغدې پيسې ، وړه، وريجې ، لرګي او غوړي او نور بېلابېل توکي هم ورکول. پر سبا ورځ به ټول کليوال د پاوکي ځای ته لاړل، د کلي ( ملاامام) به هم راغلی و، غږ به يې وکړ چې دمصيبت د حل کېدو او د خدای (ج) د رضاَ لپاره دوه رکعته لمونځ اداَ کوو، ملا امام به مخکې شو، ټول کليوال به ورپسې ودرېدل او په ډله ايز ډول به لمونځ ادا شو.
کله چې به د پاوکي د لمونځ او دُعا مراسم خلاص شول، ټولو کليوالو به د پاوکي پاخه کړې خواړه وخوړل او خپلو کورنو ته به ستانه شول، خليفه ( نايي) ته به د کلي مشرانو ورځ مز ورکړ، هغه به دېګونه خپل کور ته يو وړل او په دې سره به پاوکی يا د پاوکی د پخولو کولو مراسيم پای ته ورسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پاوکی ددود ښیګڼې**

- ✓ د مذهب یوه مهمه برخه پکې په ډېر ښه ډول پالل کېده.
- ✓ د کلیوالي ژوند د یوالي ، میني او محبت لپاره یوه ښه وسیله وه.
- ✓ پرمټ یې له مشکلاتو څخه د خلاصون فکر ژوندی ساتل شوی و.
- ✓ پر مټ یې د خیرات ورکولو فکر غښتلی کېدو.
- ✓ خلک د خدای (ج) وحدانیت ته پکې بلل کېده.

## د واده اړوند دودونه

### په نوم کول

په نوم کول په پښتني ټولنه کې یو ناوړه دود ګڼل کیږي. په ځینو سیمو کې چې به انجلۍ وزیږېده او د کوم خپلوان په کور کې به یې تازه هلک زیږېدلی و، نو د هلک د کورنۍ ، پلار – موربه د انجلۍ کور ته لاړل او نوې زیږېدلې انجلۍ به یې د زیږېدلي هلک په نوم کړه، خپل منځ کې به یې سره خواږه ووېشل او د زیږېدلو ماشومانو د کوژدې مراسم به یې خلاص شول. په ځینو سیمو کې دا دود دومره عام و چې د هرې نوې زیږېدلې ماشومې همدا حال و. د ننګرهار په ډېرو سیمو کې نجونې په ماشومتوب کې د هلک په نوم کېدله چې دا یو ناوړه دود دی چې له نېکه مرغه دغه دود اوس د ورکېدو په حال کې دی.

### په نوم کولو دود بد ګڼې

- ✓ دوه نوې زیږدلي ماشومان به د ټول عمر لپاره د هغوی په بشپړې ناخبرۍ کې د یوه او بل په نوم شول.نو ټول عمر به یې سره په لانجواو وهلو سره تېرېدو.
- ✓ کله به چې دا ماشومان لوی شو او د دوی د کورنیو ترمنځ به کومه ستونزه جوړه وه بیا به نجلۍ په کې سوزېدله.
- ✓ هغوی چې په ماشومتوب کې به سره خپلو مشرانو په نوم کړي و، چې به لویان شوه یا به هلک د ده په نوم شوي، انجلۍ سره له واده انکار وکړ او یا به انجلۍ له هلک سره له واده انکار وکړ. چې له امله به یې دښمني رامنځ ته شوه.

### زوم لرګی

زمونږ په کلي کې روج دی
خلک په زوم باندې راوړي درانه پنډونه

زوم لرګی په کلیوالو سیمو کې یوه اصطلاح ده چې هدف یې ازمایښت دی. خسرګنی له دې لارې د زوم ځواکمنتیا او زېرکتیا معلوموي. پخوا د ( زوم لرګي ) دود په ټول ننګرهارکې وو، خو له یوې نیمې لسیزې راهیسې ختم شوی . د (پښتني دودونه) په اثر کې د ننګرهار دودونو کې داسې تشریح شوی. " د جینۍ پلار له ډېر پخوا یو غوټن او چینجن لرګی ساتلی وي او چې د ډولۍ د پورته کولو خبره شي ، نو دا لرګی زوم ته وغورځوي او چې څو پورې یې دړې وړې کړی نه وي، هغې پورې ډولۍ نه شي پورته کېدای. د زوم لرګي دود اوس په ټول ننګرهار کې ختم شوی . د دې دود ځای کومې ځانګړې لارې – چارې نه دی ډک کړی، خو اوس د دې پرځای چې د زوم د قوت او صحت د مالومولو لپاره ، د همزولو مخکې، زوم ته د واده په ورځ لرګی د دړې وړې کولو لپاره واچول شي، د انجلۍ کورنۍ له ورکړې وړاندې هلک له نږدې ګوري، د هغه د روغ رنځور او زده کړو پوښتنه کوي او له مالوماتو وروسته لور په نکاح ورکوي.

### د زوم لرګي د دود ښېګڼې

- ✓ هغه وخت پر زوم د باور لپاره یوې لارې ته اړتیا وه. پخپل وخت کې د همدې دود له لارې دا باور موندل کېده.
- ✓ د همدې دود له برکته ځوانان مجبورېدل چې نیزه وهنه او نښه ویشتنه حتمناً زده کړي.
- ✓ د زوم لرګي د دود له برکته ځوانان مجبور وه چې خپل صحت ته پام وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د زوم لرګي د دود بد ګټې**

- ✓ که بـه کـوم ځـوان د خسـر کـور کـې لرګـی سـم مـات نـه کـړ، نـو د ټولو همزولو مخکـې بـه وشرمېدو. له دې املـه بـه ټول عمر د همزولو په منځ کې ټيټ و او دې ټيټوالي به يې ټول عمر روح نارامه کړی و.
- ✓ د دې دود له املـه د هلک او انجلۍ د کورنی ترمنځ لانجې هم رامنځته کېدلې.
- ✓ په ځينو ځايونو کې داسې هم کېدل چې کوم ځوان چې بـه د زوم لرګي پـه دود کې ناکام وشمېرل شو پر سبا به يې د ډېر غيرت له امله ځان وژنه وکړه.
- ✓ په ځينو مواردو کې د همدې دود له امله د هلک او انجلۍ ټول ژوند له ستونزو سره مخ کېده.

**باجي**

د انلاين قاموسونو په ويب پانه کې باجي پـه دې ډول تعريف شوی. ( اسم صفت – واحد – مـذکر نوم دی، چې مانا يې باج ورکونکی ، مطيع ، فرمانبردار ده چې جمع يـې باجيان ده) ( ټـول افغـان ويپآنه، ۱۲).

باجي په اصطلاح کې هغه کس ته ويل کيږي، چې د واده زلمي تـه ، د خپـل وس پـه اندازه د هغـه د واده په خاطرځه ناځه پيسې د ډالۍ په ډول ورکوي اوخپله حوشحالي پرې څرګندوي. د باجي د پيسو همدې ورکړې ته د باجي دود ويل کيږي چې د ننګرهار پـه ځينو سيمو کې پخوا موجود و خـو اوس له منځه تللی. باجي چې اوسنی ځای ناستي يې د مصنوعي ګلانو ډاليو نيولی دی ، د واده زوم سره د نقدو پيسو يو ه بنه او پرځای مرسته وه، د هغه لاسنيوی پرې کېدو او يو نيم پور پرې هم په بنه وخت کې پرې کېدو. دمګړۍ اوس په ننګرهار کې په زياتو سيمو کې د (باجي دود) نه پالل کيږي او په ودونو کې مصنوعي ګلانو او د خوراک ځښاک د چنايي لوښو ډاليو د باجي دود له خلکو هير کړی دی "

**ډولۍ**

ډولۍ د پښتني فولکور هغه لرغونی دوديز ارزښت دی چې، د پيغلو ډېر ارمانونه ور پورې تړلي دي. له پښتني فولکلور ښکاري، چې پښتانه له پيړيو راهسې له دې دود سره اشنا دي.

**ډولۍ**

( اسم - واحد/ جمع – مؤنث : جوپان، جپان، چوپان، د ناوې چوپان، د ناوې کجاوه، د نـاوې منجيلـه .(ټول افغان ويپآنه، ۱۲).

پـه دې تصـوير کـې د کلـي هغـه کس چـې د ډولـۍ پـه جوړولـو کـې مهـارت لـري، د نـاوې لپـاره ډولـۍ جوړوي،خو د ډولۍ دا ډول جوړول د هر چا له وسه نـه ده، يـو ځـانګړی سـړی بـه پـه کلـي کـې د دې لپاره حتماً وي.فولکوريک ليوال فاروق فراق د ډولۍ د جوړښت او د ډولـۍ د دود پـه اړه داسې ليکلي دي. " ډولۍ د واده پر مهال د جنج يا ورآ په وخت کې استعماليږي، ډولۍ يوه وړه شان زانګو وي چې عموماً د يو نيم ګز ځخه تر دوه ګزو پورې اوږدوالی او په همدې اندازه پلنوالی لري، پـه منځ کې يې يو لرګی ورکړل شوی وي چې، دغه لرګی د ډولۍ د يو سر او بل سر ځخه تقريباً يو- يو ګز رابهر شوی وي او کله چې د واده پـه وخت د واده د زلمي کورنی په ناوې پسې د هغې کورته جنج يوسي ، نو د جينۍ کورنۍ د وړاندې نه د ډولۍ بندوبست کړی وي. ډولۍ اکثر د کلي د کسب ګر يـا نايانو کره وي اوهغوی ترې د واده پر وخت کـاراخلي. د کلي کسـب ګـر پـه ډولـۍ سـره، بنارسـۍ غوړوي او لاندې ترې د ناوې د کښيناستو لپاره توشک خوره وي. کله کله د ډولۍ د وړلو وظيفه هم دغه کسب ګر ترسره کوي چې د دې په بدل کې ده ته يوه اندازه پيسې ورکول کيږي، خـو پـه زيـاترو سيمو کې د خلک په کسب ګرو ډولۍ نه وړي.کله چې ناوې په ډولۍ کې کيښنول شي، ډولـۍ تـه د نـاوې ورونه، ماماګان، پلار يا نور نژدې خپلوان اوږه ورکوي او ډولۍ پورته کوي. د ډولۍ د پورته کيدو سره سم د هلک کورنۍ د خپلو ټوپکو تمانچو او کلاشنکوف خولې د اسمان طرف تـه نيسي او داسـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډزار جوړې کړي چې په زړه کمزوري حلک، ماشومان او زنانه په غوږونو کې ګوتې کېږدي او د ډزو دغلي کيدو سره سم ماشومان جينکی او ښځې د " اله اله " چغې پورته کړي، د دغه چغو نه وروستو په ډولی پسې رواني ښځې او جينکۍ چې تمبل هم د ځان سره لري، په تمبل وهلو لاس پورې کړي او د هلک تر کوره د ډولۍ رسيدو پورې په ټوله لاره خپلې روايا تي فولکلوري سندرې وايي.(ربنتين، ۱۳۹۶: ۱۰).

**ناوې ته هګۍ وېشتنه**

ناوې ته دکوټې د دروازې پر سرتاک د هګيو او انارو وېشتنه، په پښتني سيمو کې يو عام دود وو. ويل کيږي چې " د ننګرهار په ډېرو سيمو کې دا دود موجود و. کله چې به ناوې په ډولۍ کې د شاوو کور ته وړل کېده ، نو د ناوې کورنۍ به دوه تنو زلميو ته درې داني هګۍ، او درې غټ انار د وېشتني لپاره ورکړل . دواړه ځوانان به د ډولۍ سره به يوځاى د شاوو کور ته لاړل، تر هغې به ناوې له ډولۍ نه کوزېده ، چې دې دواړو ځوانانو به د ناوې د کوټې د دروازې پر پاس سرتاک درې واړه هګۍ او انار نه وه، ويشتلي. يو ځوان به د واده د ټولو ميلمنو په وړاندې د دروازې پر سرتاک درې داني هګۍ وويشتلې او دوهم ځوان به د ناوې د کوټې د دروازې پر پاس سرتاک پرله پسې درې انار وويشل، پر دروازه به د هګيو زېړ او د انارو سرې اوبه راغلې،کله چې به دا کار خلاص شو، ناوې به له ډولی کوزه شوه او د خپلې کوټې پرلورې به بوتلل شوه. د کوټې دروازې ته به يې وکتل او بيا به د کور د کاله په کوټه کې کينول شوه. د ناوې سره تللې ورابانې او دواړه زلمي به ترې بېرته خپل کورته ستانه شول.

**سنت ګري**

سنت ګري د ماشوم د سنت کولو په بهانه د خوشحالۍ يو لړ مراسيم دي چې په ځينو پښتنو سيمو کې مروج دي. ځيني کورنۍ چې خپل ماشوم سنت کړي. د سنت ګرۍ په نوم پرې د حوشحالی مراسم برابروي، چې د ماشوم خپلوان پکې راټوليږي او د خپلې حوشحالی اظهار کوي. (( سونتي ته په دري او عربي کې ختنه ويل کيږي. دا مرحله د پښتنو په دود کې يوه ستره ښادي ګڼل کيږي او ډېر درانه ترتيبات ورته نيول کيږي، پسونه پکې حلالېږي، ډمان او مجلسيان پکې تاويږي ، د مېرمنو ټنګ ټکور په کې تود وي او د نايي ګرمه چاړه اوبو کې پرته وي.په دې وخت کې هرڅوک خوشحاله وي، خو يو هلک په خپله خپه وي او دا ځکه چې له وهم نه علاوه په داسي پڅه چاړه او نورو نيمګړو ترتيباتو يې د جراحي عمليات کيږي چې هغه په رښتيا د سر وېښته زيږوي. په کوم خانګ چې هلک کېنول کيږي د هغه لاندې ځينې خلک بله ډېوه او ځيني نور ترې پيسې لاندې کوي. د جراحی د خرپ سره سم د هلک پر سر پيسې شيندل کيږي او څوک په خوله کې ګوړه ورتخته کوي. د ناسور نه د زخم د بچ کولو او د بد اواز نه د زخمي د ژغورني لپاره د سپين زر او پيروزې غمی د پښتنو په دود کې ډېر اعتبار لري، نو له دې کبله سنت کړي هلک ته په غاړه د سپينو پاولو غاړکی وراچول کيږي او د مټ يا ګوتې څخه ورته د پېروزې غمي تړي. کوم پوټکی چې په دې جراحی کې له ده غوڅ شوی دی، هغه ماشوم ته د يوه مزي په واسطه له پښې تړي او دا هم د پښتنو په عقيده د زخم د ژر جوړېدو يوه ښه وسيله ګڼل کيږي.( روح الامين،۱۳۹۱:۲۸ ).

دا دود اوس مخ په ورکېدو دی.دا ځکه چې د عصري طب په راتګ سره هر ډول سهولت رامنځ ته شو نو اوس د هلک سنت کول په روغتونونو کې د يوه تکړه ډاکټر لخوا تر سره کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ګودر**

ګودرته ځم راپسې راشه
منګي مي دوه دي نرۍ ملا مي ماتوينه

" ګودر د پښتنو له پيدايښت سره سم پيدا شوی. خپله ګودر د ځښاک د اوبو ځای دی، خو ګودر ته د انجونو ورتګ يو دود دی. پښتنو داخبره سره منلې، چې انجونې مازيګر کې د اوبو وړلو لپاره ګودر ته لاړې شي.
په لرو پرتو سيمو کې که تاسې وګورئ! د لويو لارو ترڅنګ لويې ويالې تيرې شوي دي، دا ويالې له لويو خوړونو او رودونو څخه پورته شوي، چې هر وخت پکې د غره د واورو پاکې اوبه رواني وي. د ويالو دواړو غاړو ته لوی لوی چنيارونه ولاړ دي. د ننګرهار د مومندو، شينوارو او خوږيانيو په ډېرو سيمو کې به، د کلي ځوانانو د کلي د مشرانو په لارښونه ، د ويالې ترغاړې د غټ چينار بېخ ته، ګرد کوهي چې پنځه متره به په ځمکه کې ژور وهل کېده. دا کوهی به هرسهار وختي ، د ويالې له اوبو ډکېده، د ورځې په اوږدو کې به لارويانو د لرګي پرلپکی له کوهي يخې اوبه څښلې، خو چې به مازيګر شو، نو پر کوهي به د پيغلو کتارونه ورمات شول، همدا کوهي او د کوهي پر غاړه د پيغلو بنډار ته ګودر ويل کېږي.( بي بي سي پښتو ويپاڼه، ۳).
همدارنګه د سيند پر غاړه به هم داسې يو ځای وو چې هلته به نجونې راټولېدلې او په مازيګر کې به يې هم د کور لپاره اوبه وړلې او هم به يې پر ګودر لوبې او مستي کوله،چې له بده مرغه دا ګودر اوس د عصري وسايلو د راتګ سره له منځه تللی او په هر کور کې د اوبو لپاره د اوبو پمپمونه جوړ شوي او د ګودر غاړه اوس د اوبو پمونو نيولې ده.

**د ګودر ښيګڼې**

- ✓ مين د خپلې معشوقې د ليدو لپاره ژوند پر ګودر تېرول غوښتل او پېغلو دغه ځای د خپل بنډار لپاره تر ټولو ښه ځای باله.
- ✓ مازيګر به چې د لمر زرينو وړانګو خپل وزرونه ټول کړل، نو په کورونو کې به نجونو کلتوري جواز وموند.
- ✓ ګودر د مينې او محبت د خورلو يو ښوونځی و.
- ✓ ګودر د يوالي، خوښۍ، وروږګلوۍ او زغم سمبول و.
- ✓ ګودر د ښکلاګانو او د پيغلو د بنډار ډېره او حجره وه.
- ✓ ګودر د پښتون قام د ژوند د پيژندنې يو ستر کتاب و.

**د ګودر ختمېدل پښتانه له لاندې زيانونو سره مخ کوي**

- ✓ په کومو سيمو کې چې ګودر ختم شوی ، ورسره د کليوالو انجونو د تفريح مرکزونه په دايمي ډول ختم شوي.
- ✓ چيرته چې کودرونه نشته، د هغې سيمو په خلکو کې د مينې ، محبت متره کمزورې او د تشدد روحيه پياوړې ده.
- ✓ په کوموځايونوکې چې ګودرونه ښار شوي او يا ختم شوي، هلته د پښتو دشاعرۍ بهانده چينه په وچېدو ده.
- ✓ که چيرې په ټول هيواد کې ګودرونه ختم شي، د پښتنو د ژوند د پيژندې يوه ستره رڼه هنداره به ماته شي.
- ✓ هلته چې ګودرونه وران شوي او دا دود ترخارو لاندې شوی ، مينو کليوالو زلميو او مينو کليوالو پيغلو خپلو هيلو ته د رسېدو لپاره ، نورې لارې انتخاب کړې چې پايلې يې ډېرې بدې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ښځو نذر**

چې خدای کوي هغه به کېږي
هسې اشنا په زيارت مه تړه نذرونه

د نذر له کلمې سره به حتمآ آشنآ ياست. د اسلام په مبارک دين کې هم نذر شته، خو له ځېړنو ښکاري چې، په پښتنو کې له اسلام وړاندې د نذر دود موجود و. که دا خبره سمه وي بيا هم مجبور يو چې رېښه يې د وخت مذهب پورې وتړو، ځکه نذر مذهبي اصل او يو عقيدوي دود دی. د ننګرهار د ګڼو ولسواليو په اوسېدونکوکې د نذر دود مجود و. په ځينو سيمو کې لا تراوسه پالل کيږي، په ځينو په لږ توپير سره پالل کيږي، خو په ځينو سيموکې په بشپړ ډول هير شوی دی.
سره ردو ولسوالۍ چې تاريخي او کلتوري پلوه په ننګرهار کې يوه غني ولسوالۍ ده اوسېدونکو يې له لسګونه کالونو راهيسې د خپلو اړتياوو د پوره کېدو په عقيده د نذر دود پرځای کوه.دا د ښځينه وو ترمنځ يو ځانګړی دود و او تر ډېره يې ښځينه انګېزه لرله. ممکن دا دود د هېواد په نورو سيمو کې هم وي، خو په دې سيمه کې يې ځانګړی مقام لرلو او پر زيارت د ښځو راټولېدو يواځينی پلمه وه، ځکه ښځو په زيارت کې د يوبل له حال و احوال هم ځان خبرولو.

**ماښو لوګی کول**

موريې ماښو ورته لوګی کړه
زيارت ته تللې چا بی مخ لېدلی وينه

د ماښوګانو لوګی کول په پښتونو کې يو عام دودی دی. ماښوګان او سپېلني د بد نظر د مخنيوي لپاره لوګی کېده. په ځينو سيمو کې دا دود لاهم موجود دی، خو په ځينو سيمو کې بېخي هېرشوی. په ننګرهار کې د ماښو ګانو لوګي کولو دود تر بل هرځايه ډېر پالل کېده، خو اوس يې خلکو هېر کړی.
د ماښو ګانو لوګی کول، د ننګرهار په خلکو کې يو عام دود و. کله چې به کومې مور ښکلي ماشوم ته پاکې جامې ور واغوستلې نو د نظر د لګېدو لپاره به يې، په يوه لوخي کې ماښوګان او د اور سکروټې واچولې، هغې به خوږ لوګی وکړ، لوخی به يې ماشوم ته ورورړاندې کړ، د خپل بچي سترګو ته به يې وکتل، ورته به مسکۍ شوه او وبه يې وويل: له نظره مشې. همدا ډول که ، به د کور کومې پيغلې ، يا زلمي ښکلي جامې واغوستې او مور ته به ښکلي ښکاره شول، نوماښوګان به يې ورته لوګی کړل. که به په کوم کور کې داسې څاروي چې شېدې يې خوړل کېدې، بچې وزېږولو او غولانځ به يې له شېدو پړسېدلې وه، نو کور والا به کوڅو کې خښځلې راټولې کړې، ورسره به يې ماښوګان ګډ کړل او څاروي ته به يې لوګی وکړ.

**د ماښوګانولوګي کولو دود نسبي ګټې**

- ✓ د نظر ماتولو لپاره يوه لاره وه، چې د خلکو زړه پرې نسبي سکون موندلو.
- ✓ مينديې هسې ډاډه کېدې، چې تر لوګی وروسته يې ښکلی بچي نه نظره کيږي.
- ✓ د بدنيتو پر مخ يوه کلتوري څپېړه وه او هغوی ته د بدنظر د ځواب يوه ښه لاره وه.

**مناقشه**

دودونه د پښتنې ټولنې هغه اصول او قواعد دي،چې پخوا يې د همدې دودونو پر مټ د خپلې ټولنې مشکلات حل کول او په ټولنه کې هر وګړي خپل مسؤليت په سمه توګه ترسره کولو.که له پښتنې يا افغاني ټولنې دودونه لرې شي،دا ټولنه به نېمګړې شي او خلک به يې له ګڼو مشکلاتو سره مخ شي.که څه هم د نوې عصر له راتګ سره ډېر دودونه يا له منځه تللي او يا د هېرېدو په حال کې دي،خو هره ټولنه د خپلو دودونو او رواجونو له امله په ټولنه کې پيژندل کيږي. دا سمه خبره ده چې دودونه ګټې او زيانونه لري،خو کوښښ بايد وشي له بدو رواجونو ډډه وشي او هغه دودونه ژوندي وساتل شي،چې ټولنې ته يې ګټه ورسيږي.د ننګرهار هېرشوي دودونه يا هغه دودونه چې ګټور دي او د ورکېدو په حال کې دي بايد ژوندي وساتل شي ترڅو ځوان او راتلونکی نسل له خپلې ټولنې او ادب څخه ناخبره پاتې نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پایله**

((د ننګرهار ورک شوي دودونه)) تر سرلیک لاندې علمي مقاله ده،چې د ننګرهار په هغو دودونو بحث شوی چې یا هېر شوي او یا هم د ورکېدو په حال کې دي.ننګرهار یو له هغو ولایتونو څخه دی،چې زیاتره پښتانه په کې له پخوا وختونو ښه او ناوړه دودونه لري.په دې څېړنه کې په ځینو هغو دودونو بحث وشو چې په ننګرهار کې موجود وو خو اوس د ورکېدو په حال کې دي.دودونه د پښتني سیمو هغه قاعده او اصول دي چې د همدې دودونو په مرسته یې د خپلې ټولنې مشکلات حل کول.که کله به په کوم قوم یا کلي کې د ټولینز کار لپاره اړتیا وه نو د همدې ټولنیزو دودونو له مخې به د کلي ټول ځوانان او په کار پوهه خلک راوتل او په ګډه به یې د خپل کلي او سیمې کارونه سرته رسول،چې دا ټول د دودنو او تړو په مرسته تر سره کېدل.په دې څېړنه کې د ننګرهار مختلف دودونه لکه د نغارې دود او د هغې ډولونه،د اشر دود،د چیغې دود،د هغې ګټې او زیانونه،د پاوکي دود،د خیرات دود،د ودونو دودونه او دې ته ورته نور ډېر دودنه تر بحث لاندې نیول شوي دي.

**وړاندیزونه**

۱:هغه دودونه چې د ورکېدو یا هېرېدو په حال کې دي ژوندي وساتل شي. که چېرې د پښتني ټولنې دودونو په خپل حال پاتې نه شي لرې نه ده،چې پښتانه به د خپل ژوند یوه برخه له لاسه ورکړي.
۲: ټول هغه ګټور دودونه چې ټولنې ته یې ګټه وي په مختلفو ډولونو ټولنې ته وړاندې شي،څو خلک وکولی شي ګټه ترې واخلي، ځکه چې همدا دودونه دي،چې د پښتنو ترمنځ یې د یوالي روحیه ژوندی ساتلې ده.
۳: دودونه د پښتو ادب یوه غني برخه ده،که ټولنه ورته پام ونکړي او په عادي نظر ورته وګوري،نو دوی به هیڅ کله د خپل تېر ژوند په حالاتو خبر نه شي او ځان به له ټولنې لرې وساتي،چې د همدې لپاره باید ټول دودونه چې ګټور دي خوندي او خلکو ته یې په اړه عامه پوهاوی ورکړل شي.

**ماخذونه**


۱: تورمان، اجمل .(۱۳۸٤ ل).دا ښار-هاغه غرونه، دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه-پېښور.
۲: اریانا پښتو- پښتو کامل سیند.( ۱۳۸۹ل).د افغانستان د علومو اکاډیمي،د ژبو او ادبیاتو انستیټوټ،اریانا خپرندویه مؤسسه.
۳: بي بي سي پښتو ویب پاڼه.
۴: هوتک، رحمت الله.( ۱۳۸۹ل). د افغانستان اتنو ګرافیک اطلس،د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو نړیوال مرکز،اسد دانش مطبعه، کابل.
۵: امین، روح الامین.( ۱۳۹۱ ل).پښتني دودونه مومند خپرندویه ټولنه-جلال اباد.
۶: امین، روح الامین.( ۱۳۹۱ ل).پښتني دودونه.
۷: صادق، صادق الله .( ۱۳۹٦ ل). د میني ټپې لومړی ټوک.مازیګر کتاب پلورنځی-جلال اباد.
۸: رښتین، صدیق الله .( ۱۳۸۹ ل). پښتني لاربښود.
۹: رښتین،صدیق الله.(۱۳۸۹). پښتني لاربښود.
۱۰: رښتین،صدیق الله .( ۱۳۸۹ ل). پښتني لاربښود.
۱۱: روهي،محمد صدیق .(۱۳۹۴ ل).فولکلور پېژندنه. سید غني،سریزه او بیا کتنه.ګودر خپرندویه ټولنه،جلال اباد.
۱۲:www.tolafghan.com.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**